مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

۲۰۲۶/۰۵/۳۱

# راته وایه

زما د زړه شوراوسرور او غرور ته وي
د دي دوو سترګو له پاره مي نور ته وي
بې له تا مي يو نفس نه شو وېستلای
ما ته ډېر ترخپلي ساه هم ضرور ته وي
زما د هيلو په رنګين ښکلي جهان کي
ځلاند لمرد خوشالی او سررور ته وي
چي مستی کي يي بې باکه وم له هرشي
زما په ژوند کي ها د تاک مسته لور ته وي
باک مي کله له غمونو د روزګار کړ؟
چي مي زړی د خوښی او سرورته وي
درست جهان که مي بدخواه ۇ زما ګراني
زما په حال بس پريشان او ترورته وي
رانيږدي او را حضورکه چېري وو زما
له ها ټولو را نيږدي اوحضور ته وي
ولي ولي دي اوس لېري کړم له ځانه؟
راته وايه زما ګرانه زما ګرانه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ